الهي فرمان

اي خلکو بيشکه مونږ پيدا کړي يي تاسي (تول اصلاً) له يوه سړي چي (آدم) او له يوي ښځي چي (حوا) ده او ګرځولي يي مونږ تاسي څانګي او قبيلي قبيلي لپاره ددي چي وپيژني يو له بل سره بيشکه چي ډير مکرم او معزز له تاسي څخه په نزد د الله ډير متقي ادب لرونکي ستاسي دي بيشکه چي الله تعالي ښه عالم ډير خبردار دي .

(الحجرات ۱۳)

شريعت

اوونيزه

دافغانستان دطالبانو داسلامي تحريک مرکزي نشراتي ارګان

نبوي ارشاد

هغه څوك له مونږ څخه ندي چه خلك منحرف او افراطي قوميت ته رابولي هغه څوك له مونږ څخه ندي چه په دغه منظور جګړه کوي . هغه څوك له مونږ څخه ندي چه په همدي مفکوري مړشي .

(ابو داود)

دوهم کال يو ديرشمه ګڼه پرله پسي (۸۱) | چهارشنبه د ۱۳۷٦ هـ ش کال د زمري دمياشتي (۱۵) | د ۱۹۹۷ميلادي کال اګست (٦) | د۱٤۱۷هـ ق کال د ربيع الاخر (۱)

تذکر خطر ايمان است اگـر به اين کلمات مقدس بي حرمتي کنيد .

د جګړي دلومړي کرښي اتل قوماندان محترم الحاج محمد موسي خالقي له شريعت اوونيزي سره په مرکه کي :

د کمونستو او ائتلافي مليشو د احتمالي بريد د شنډولو لپاره بشپړ احضارات لرو

تول ملت پوهيږي چي د ميدان ښار په خلکو جګړه ايران تحميل کړيده او دښمنان يي هم ايران حمايه کوي

د طالبانو له اسلامي تحريک سره ځکه يو ځاى شوم چي د شريعت د نفاذ د دعوي په نسبت مخلص دي

محترمو لوستونکو ! قوماندان الحاج محمد موسي خالقي د اسلامي جهاد اتل قوماندان او د ميدان ښار د جبهو د لمړيو کرښو مسئول دي مونږ د وروستيو تحولاتو په هکله له دوي سره مرکه کړيده چي په ګډه يي سره لولو .

پوښتنه : محترم قوماندان صاحب لطفاً د شريعت اوونيزي لوستونکو ته ځان معرفي کړئ .

ځواب : زما نوم حاجي محمد موسي «هوتك» د ميدان ولايت اوسيدونکي يم د ۱۳۵۷ کال را پديخوا مي د سرو روسانو او ملحدانو په ضد وسله وال جهاد پيل کړيدي او د حرکت انقلاب اسلامي افغانستان له خوا د ميدان د جبهو مسؤول وم وروسته مو د خالد بن وليد «رض» په نوم فرقه جوړه کړه او د طالبانو د اسلامي تحريك تر پاڅون وروسته مي وليدل چي دوي په رښتيا هم جهادي اهداف تعقيبوي، د اسلامي شريعت د نفاذ د دعوي په نسبت مخلص دي او عملاً يي خپل کنترول لاندي ساحو کي شريعت عملي کړيدي. د مظلوم لمړ

اوربدل کيږي د ظالم نه يي د حقوقو پوښتنه کيږي ، د بيت المال ساتنه کيږي نو ما هم د همدي مقدس تحريك تر زعامت لاندي يو ځل بيا د ګلم جم مليشو ، ايراني مليشو او د شر او فساد د عناصرو په ضد خپلي وسله والي مبارزي ته دوام ورکړ او اوس د اسلامي دولت لخوا هم د لوم مخ

د دولت د اداري شورا غونډه جوړه شوه

د دولت د اداري شورا غونډه د رواني مياشتي په ۱۳ مه د عدليي وزارت د سرپرست او د افغانستان د اسلامي دولت د اداري شورا د رئيس محترم الحاج ملا نورالدين «ترابي» په مشري جوړه شوه

د باختر د اطلاعاتي آژانس خبريال خبر راکړ د افغانستان د اسلامي دولت د اداري شورا په غونډه کي د ځينو دولتي ادارو د اداري او تشکيلاتي موضوعګانو په باب خبري اتري وشوي او په دي برخه کي لازم تصميمونه ونيول شول .

دغه راز د دولت اداري شورا پريکړه وکړه چي د کابل ښار د معاملاتو د رهنما د هغو دفترونو چي تر اوسه پوري يي قانوني جواز ندي تر لاسه کړي او بايي په غير قانوني ډول د فعاليت جواز تر لاسه کړيدي اسناد دي د موظف هيأت لخوا وڅيړل شي او د نتيجي په باب دي دغي شورا ته رپوټ وړاندي کړي .

دغه راز د دولت د اداري شورا له پريکړي سره سم د عدليي وزارت ته دنده وسپارل شوه چي د مدافع وکيلانو د قانون «چي طرحه يي ددغه وزارت د تقنين د رياست لخوا برابره شويده» براوونه ووهل شي چي د هغي له مقرراتو سره سم د هيواد مدافع وکيلان فعاليت وکړي او د سر غړوني په صورت کي مدافع وکيلانو ته سخته شرعي اوقانوني سزا ورکړل شي

نامه وزارت امور خارجه دولت اسلامي افغانستان عنواني مقامات مسؤول ملل متحد و صليب سرخ در مورد چګونګي وضع زندانيان در زندان هاى مخالفين

نامه، از طرف محترم الحاج ملا عبدالجليل اخند سرپرست وزارت امور خارجه دولت اسلامي افغانستان در رابطه به چګونګي وضع زندانياني که در زندانهاي مخالفين دولت اسلامي بسر ميبرند عنواني مقامات مسؤول سازمان ملل متحد و کميته صليب سرخ بين المللي در قندهار به مسوولين آن موسسات تسليم داده شد .

در متن نامه آمده است: مسوولين محترم سازمان ملل متحد و صليب سرخ جهاني ! به تعقيب نامه تاريخي ۱۹۹۷/۵/۱٦ اکنون يکبار ديګر توجه شما را به وضع ناګوار زندانيان در زندان مزار شريف و ديګر زندانهاي مخالفين دولت اسلامي افغانستان معطوف داشته و تاکيد ميداريم که ملل متحد و صليب سرخ جهاني بايست از حالت ص۴

شوري علمأ و مو سفيدان ولايت کندز تشکيل ګرديد

شوراي علمأ و مو سفيدان ولايت کندز طي محفلي تشکيل ګرديد.

آژانس اطلاعاتي باختر ګزارش داد در محفلي که به همين مناسبت در مسجد تخارستان آن ولايت به اشتراك تعداد زيادي از علمأ ، متنفذين و محترم ملا امير خان متقي سرپرست وزارت اطلاعات و کلتور بر ګزار ګرديده بود محترم مولوي سيد عمر بحيث رئيس ، محترم مولوي عبدالشکور و مولوي عبدالجبار به صفت اعضاي آن شورا ص۴

د افغانستان د اسلامي دولت په ملاتړ د جوړو شويو غونډو لنډ راپور

د خوست ، غزني او د لغمان د ولاياتو، علماو، مخورو او مشرانو د پراخو غونډو په ترځ کي له اسلامي دولت سره خپل پيوستون څرګند کړ.

د خوست لغمان او د غزني د ولايتونو د بيلا بيلو قومونو عالمانو مخورو او مشرانو په دي وروستيو وختونکي د پراخو غونډو په جوړولو سره د افغانستان له اسلامي دولت سره خپل ملاتړ او پيوستون اعلام کړ او زمونږ د هيواد په کورنيو چارو کي يي د ايران هند او روسيي د هيوادونو شرمونکي لاس وهني وغندلي .

د باختر اطلاعاتي اژانس خبر راکړ . په دغو غونډو کي له هغه وروسته چي د قرآن مجيد څو ايتونه ولوستل شول محترم مولوي جلا الدين او محترم مولوي بخت جميل د خوست ولايت د خلکو په نمايندګي محترم مولوي شاه محمود او محترم مولوي عبدالغياث د لغمان ولايت د خلکو په نمايندګي او محترم ملا محمد فيض اخند او محترم عبدلباري اخند زاده د غزني ولايت د خلکو په نمايندګي زمونږ د هيواد په کورنيو چارو کي د روسيي ايران، او د هند د هيوادونو شرموونکي لاس وهني وغندلي او د ملګرو ملتو له سازمان څخه يي وغوښتل چي ددغه سازمان له منشور سره سم زمونږ د هيواد په کورنيو چارو لوم مخ

در اثر عمليات تصفيوي مجاهدين اردوي اسلامي افغانستان در ولسوالي پغمان و حوزه ششم شهر کابل مقدار زياد سلاح و مهمات کشف و بدست آمد

سلاح هاي متذکره که شامل يك ميل توپ ۸۲ ملي متري، پنج ميل دهشکه ، ۳۰ صندوق مرمي دهشکه، ٤ دستګاه زيکويك، ٤٠ صندوق مرمي زيو، ۸ ميل فالتوي زيو ، ص٤

د اطلاعاتو او کلتور سرپرست وزير محترم ملا امير خان متقي په کندز کي د ميمز ور شرکت له تصدي څخه کتنه وکړه

د اطلاعاتو او کلتور وزارت سرپرست محترم ملا امير خان «متقي» په داسي حال کي چي د کندز د ولايت د شوري رئيس محترم قوماندان محمد عارف خان او يو شمير نور مسؤولين ورسره ملګري وو د سه شنبه په لوم مخ

مسابقات انتخاباتي بکسنګ جوانان در استديوم ورزشي ملي کابل آغاز ګرديد

مسابقات انتخاباتي بکسنګ جوانان بعد از ظهر ۱۲ اسد در استديوم ورزشي ملي کابل آغاز ګرديد.

آژانس اطلاعاتي باختر خبر داد در اين مسابقات به تعداد شصت بکسر از کلپ هاي آزاد و موسسات ورزشي شرکت نموده که مسابقات شان تحت نظر فدراسيون مربوط پيش برده ميشود .

دومين اجلاس مشترك کميسيون عالي دولتي مبارزه عليه مواد مخدر داير ګرديد

دومين اجلاس مشترك کميسيون عالي دولتي مبارزه عليه مواد مخدر قبل از ظهر ۱۲ اسد داير ګرديد .

آژانس اطلاعاتي باخترخبر داد در اين اجلاس بعد از آنکه آياتي چند از کلام الله مجيد قرائت ګرديد ابتدا سکرتر جنرال کميسيون در رابطه به چګونګي تشکيل کميسيون مختلط ارګانهاي ذيربط دولتي پيرامون اتخاذ ايستراتيژي و تعيين خط ص٤

د پلان وزارت سرپرست د هيئة الاغاثة الاسلامية د موسسي له رئيس او د پاکستاني علماء و له هيئت سره وکتل

د پلان وزارت سرپرست محترم قاري دين محمد د رواني مياشتي په ۱۳ نيټه د خپل کار په دفتر کي د هيئة الاغاثه الاسلاميه موسسي له رئيس سره وکتل

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړ په دي کتنه کي کابل ته ددغي موسسي د مرکزي دفتر د ليږدوني او د کابل په اړو خلکو باندي ددغي موسسي د انساني مرستو د ويش د لوم مخ

شهادتنامه هاي شاګران مدرسه امام ابو يوسف طي مراسمي توزيع ګرديد

شهادتنامه هاي شاګران مدرسه امام ابو يوسف رحمة الله عليه واقع قصبه خانه سازي طي مراسمي توزيع ګرديد .

آژانس اطلاعاتي باختر ګزارش داد :در مراسم محترم مولوي عبدالوارث «حقاني» در رابطه به برنامه هاي فرهنګي دولت اسلامي افغانستان صحبت نموده وظايف شاګردان را در فراګيري علم و دانش مشخص ساخت .

در اين محفل همچنان مسؤول تعليم و تربيه وزارت عدليه، خطيب مسجد امام ابو يوسف و دو تن از موسفيدان محل صحبت نموده ضمن حمايت و پشتيباني از دولت اسلامي شان از زمينه هاي را که دولت جهت تربيه فرزندان کشور مساعد ساخته است قدرداني ګردند .

در ختم محفل شهادتنامه هاي شاګردان توزيع شد .

د کابل ښار له شپږمي حوزي نه ډول ډول مهمات او وسلي تر لاسه شوي

دوه ميله درندي وسلي له ډول ډول مهماتو سره د کابل ښار د شپږمي حوزي له مربوطاتو نه تر لاسه شوي .

د باختر اطلاعاتي اژانس خبر راکړ د کابل ښار د پوليسو د شپږمي حوزي د امنيتي منسوبينو د هلو ځلو او فعاليت په نتيجه کي د زمري د مياشتي په ۱۳ مه د بي ام يو يوه دستګاه، يو پنځه او يا ملي متري توپ، يو هاوان، د زيکويو يو سلو شل صندوقه ګولي، د دهشکي شپيته صندوقه ګولي او د زيو پنځوس صندوقه ګولي ددغي حوزي له مربوطاتو نه کشف او تر لاسه شوي

دغه وسلي او مهمات چي په ډېره زيره کي سره پټ کړاي شوي وو د امنيتي موظفينو لخوا کشف او د کابل ولايت امنيه قوماندانۍ ته وسپارل شول .

سرمقاله

دلوي خداي (ج) په نامه!

هيوادوال څه غواړي ؟

د افغانستان مجاهد او مسلمان ملت که د هر قام او توکم دي، که په هره ژبه ګړيږي ، که د هيواد په هر ګوټ کي ووسيږي تول په يوه خوله دا پوښتني کوي چي : دا نږدي شل کاله له رنګ شوي شوروي اتحاد سره بيا د هغه له پاتيشونو ګلم‌جمانو، د کشتمند مليشو او د هغو له نورو پروتوکولي نوکرانو، د فسق او فساد ډلو سره د څه له پاره جنګيږو؟ په لکونو شهيدان - رحمة الله عليهم - مو د څه لپاره ورکړل ؟ په لکونو مجاهدين مو د څه لپاره معلول او له ژوند کولو نه عاجز شول ؟ په لکونو کونډي، يوري ميندي، ورارې خويندي ، يتيم اولادونه مو د څه لپاره ؟ ودان او سمسور هيواد مو د داخلي او بهرنيو دښمنانو په لاسونو ولي وران او ويجاړ کړ ؟ ولي ... ولي ... ؟ ؟

که دغه پوښتني د طالبانو اسلامي تحريك او دولت ته مخامخ شي نو ځواب بي دا دي چي دغه واړه د هغه مطلب لپاره چي د هغه په خاطر مو يو ځل بيا کتاب او قلم د جومات په طاقچه کي کيښودل او په يوه څادر کي مو راودانګل بي دريغه قرباني مو ورکړي او لاورکوو يي يعني چي هيواد مو د کافرانو او د هغوي د پروتوکولي نوکرانو او ملحدو مليشه يي مزدورانو له تسلط نه آزاد شي، امنيت ټينګ او سلامي شريعت پکښي نافذ شي، ملي وحدت د ځمکي تماميت او استقلال ته مو احترام وشي، هيواد مو په معنوي او مادي لحاظ ودان او دوهم مخ

خبرتيا

د شريعت اوونيزي اداره په بهر کي ميشته وافغان مهاجرو ورونو ته چي په شريعت اوونيزه کي ګډون لري او يا په راتلونکي کي ګډون کوي خبر ورکوي چي : د اشتراك وجه يوازي او يوازي په لاندي جاري بانکي حساب را وليږي او له نورو لارو نه يي له رالېږلو نه ډډه وکړي .

Account No :
71-8 Allied Bank of Pakistan LTD
Shopping Plaza KarKhano Peshawar

دري تنه شوکماران ونيول شول

د ميدان ښار او د سيد اباد د ولسوالي د لاري په اوږدو کي دري تنه شوکماران د يو موټر د مالونو د لوټولو او غلا کولو په وخت کي لاس په لاس ونيول شول او د قانون منګولو ته وسپارل شول .

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړ : د ميدان ښار د امنيه قوماندانۍ د موظفينو د هلو ځلو له امله نورن کسان هر يو د عبدالستار اوسيدونکي ملك د نصر الله زوي، جان اغا د سلطان جان زوي او محمد امين د محمد جان زوي لاس په لاس ونيول شول .

نورنو کسانو په خپل جرم اعتراف کړي دي او قضيه د مربوطو مراجعو تر تحقيق لاندي ده .

پيش بيني خسوف (ماه ګرفتګي) کامل و مرئي در افغانستان

شب چهارشنبه مورخ ۲٦ سنبله ۱۳۷٦ هش مطابق شب چهاردهم شهر جمادي الاول ۱٤۱۸ هـ ق برابر با شب هفدهم سپتمبر ۱۹۹۷ ميلادي ماه در عقده ذنب به شرح ذيل ګرفته ميشود :

۱ - دخول جرم ماه در شبه سايه زمين ساعت ۸/۲۵ شب مذکور

۲ - اولين تماس جرم قمر با سايه حقيقي زمين ساعت ۹/۲۵ شب مذکور

۳ - ګرفتګي کامل ماه ساعت ۱۰/۳۵ شب مذکور

٤ - توقف کامل ماه در سايه زمين و وسط خسوف ساعت ص٤

نيرو هاى مسلح اردوى اسلامى کشور! در راه دفاع از حاکميت دينى، ملى ، تماميت ارضى و استقلال کشور ، خوف از خدا و شفقت بر خلق الله را در هيچ حالت فراموش ننمائيد

شریعت

دامتیاز خاوند : دافغانستان دطالبانو اسلامي تحریک
دتاسیس کال : ۱۳۷٤ هـش
: د لیکوال هیئت ترنظر لاندې
مسؤول مدیر : الحاج مولوي عبد الرحمن احمد «هوتک»
مرستیال : ملا أسد الله «حنیفي»
دیوې ګڼې بیه : په هیواد کي (۱۰۰۰) افغاني
په پاکستان کي (۲) کلدارې
آدرس : کابل وزیراکبر خان مینه / سرک۱۱ / کور (٥۲۰)
تیلفون : ۲٦۲۸۱ - توزیع و شکایات ٦۲۸٥۹
پوسته بکس : (٤۷۱)
په پیښور کي : دطالبانو نمایندګي / تیلفون: ۸٤٤۳۳۱-۸۱۸۱٥۷-۸۱٥٦۲۷

د سرمقالې پاتې برخه

سمسور، هیواد وال مو اسوده او سر لوړي ژوند وکړي په هر څه کي د نړۍ او سیمې له سیالانو سره برابر بلکې برتر شي؛

که چیرې دغه پوښتني هغه چاته مخامخ شي چي د هیواد والو له غوښتنو او اسلامي شریعت سره په جګړه کي دي او نه غواړي چي ددې مجاهد ملت غوښتني او ارمانونه تحقق پیدا کړي نو د هغو بې واکو او بې لارو خوله دي پرته بل ځواب نشته چي ووایي : «... تر هر څه د مخه کابل راته خوشي کړي » یعني هلته مو د زړونو ارمانونه پاتي دي» ... وریسي به بیا د یو پراخ بنسټه حکومت په هکله خبري کوو » یعني دومره پراخ چي زموږ ولي، درني او سپکي وسلي، مو پړونه، اموال او شخصي الوتکي ، مزي او چړچي داواړه یکي ځاي شي » له هغه نه وروسته به بیا د بندیانو د تبادلي تصمیم ونیسو «یعني بندیان لا څواك دي ... چي موني بي له خبرو نه پخوا د تبادلي سر خوږي نه غاړه کیږدو؟»

... دا به داسي پراخ بنسټه وي چي زموږ شمالي او غربي دوستان ورنه خوښ او راضي وي.دغه د دوي د وینا او عمل خلاصه ده چي د هیواد والو پښتنوته یې ځواب ورکوي !!!؟

په دې سره نه یوازي دا چي د هیواد والو د پوښتنو ځواب نه کیږي بلکي هغوي احمقان ګڼل او توهین یې کول هم یکي راځي - معاذ الله و حاشا الله -؛

نن سبا دا خبره کیږي چي : د افغانستان د طالبانو اسلامي تحریك او دولت د یوه ګډ کمیسیون په جوړولو راضي شوي دي، دا نوي خبره نه دي ، ان له پیل نه د طالبانو اسلامي تحریك ددې پلوي دي چي د هیواد ستونزه بي له جنګه، په روغ لاس د خبرو اترو له لارې حل شي، او پراخ بنسټه اسلامي دولت دي جوړ شي، مګر داسي حل چي د هغه له مخې په هیواد کي اسلامي شریعت په پوره معني عملي شي، د هیواد والو غوښتني ، د شهیدانو «رح» او معلولو مجاهدینو ورونو، کونډو او یتیمانو ارمانونه، د لوي اسلامي جهاد هدفونه یکښي پوره او تر سره شي، داسي پراخ بنسټه دولت چي په هغه کي د هیواد د ټولو مسلمانانو پرګنو او قومونو صالح ، مخلص پوه او رښتیني استازي برخه ولري نه داسي حل چي په هغه کي یوازي د شر او فساد وسله والي ډلي او د پردیو مزدوران له خپلو ټولو بي شمیره او ناتراشه هیلو سره خوندي شي؛

د افغانستان د طالبانو اسلامي تحریك او دولت په ډیره تلوسه سره هغي ورځي ته سترګي په لاره دي چي د ګران اسلامي هیواد ټولي ستونځي د خبرو له لارې ، په روغ لاس هغسي حل شي لکه چي ومو ویل ، مګر د خبرو اترو لپاره د اعتماد فضا را منځ ته کول سخته ضروري خبره ده ځکه چي له هغه نه پرته خبري اترې د وخت ضایع کول دي له دې امله اسلامي دولت نه غواړي چي د بې اعتمادۍ په فضا کي خبري پیل شي، لکه له هغه نه مخکي دي ټول بندیان تبادله کړل شي، په تیره بیا د اسلامي دولت هغه بندیان دي هرو مرو خوشي کړل شي چي مزار شریف ته په دوکه او فریب سره بوتلل شول او ځیني یې هغلته په ناحقه ووژل شول او نور هلته بندیان دي او هم دي مخالفین له هغسي شرطونو څخه لاس واخلي چي ناشوني او هیواد وال له هغه پلوه کیدلي وي ، په دغه ترتیب سره کیداي شي د خبرو اترو لپاره مساعده فضا او د بریالیتوب هیله پیدا شي .

درس های از اخلاق

۳

سلطانه رحیم

وظیفه انسان نسبت به پدر و مادر

پدر و مادر واسطه، آفرینش فرزند و تربیت ابتدائي او میباشند بدین سبب در دین مقدس اسلام بالا ترین توصیه و تاکید در اطاعت و احترام ایشان وارد شده تا جائیکه خداي متعال در کلام خود پس از ذکر توصیه به احسان والدین توصیه فرموده به این معني میفرماید : « خداي تو فرمان داده است که جز او را نپرستید و به پدر و مادر نیکي کنید »

و در اخـــباریکه گناهان بزرگ را میشمارد پس از شرك ، بد رفتاري نسبت به والدین شمرده شده است . و نیز خداي متعال در سوره اسري آیه ۲۳ به این معني میفرماید : « اگر یکي از پدر و مادر یا هر دوی شان سالخوره باشد و به سن بالا رسیدند با آنان کلمه، زننده نی مگو و بانگ برایشان مزن و با احترام با ایشان سخن گوي و با مهرباني در برابر شان بال فروتني بگستر . »

چه خـــــوش گـفت زني به فـــرزند خویش :

چو دیدش پلنگ افگن و پیل تن
گـر از عـهد خردیت یاد آمـدي
کـه بیـچاره بودي در آغوش من
نکردي در این روز بر من جـــفا
کـه تو شیـر مردي و من پیـر زن

در دین مـقدس اسلام اطاعت پدر و مادر جز در موردیکه بترك یکي از واجبات یا فـعل یکي محرمات امر کنند، واجب است . و به تجربه رسیده است که مردمیکه پدر و مادر خود را میرنجانند در زنده گي خود هرگز خوشبخت و رستگار نمیشوند .

وظیفه انسان نسبت به همسایگان :

چون همسایگان بواسطه نزدیکي محل آسایش ارتباط بیشتري با یکدیگر دارند و طبعاً در حکم یك خانواده بزرگتري میباشند . خوش رفتاري و بد رفتاري یکي از آنان در همسایه هاي دیگر بیشتر از سایرین تاثیر خواهد داشت .

پیامبر خداوند «ج» حضرت محمد «ص» میفرمود : «جبرئیل در خصوص همسایه آنقدر بمن سفارش کرد که گمان بردم خداي متعال همسایه را یکي وراث دیگر قرار خواهد داد . » و نیز میفرمود: کسیکه همسایه، خود را بیازارد در بهشت را نخواهد رسید و کسیکه حق همسایه را مراعات نکند از ما نیست و کسي که سیر باشد و بداند که همسایه اش گرسنه است و باو چیزي ندهد مسلمان نیست .

وظیفه انسان نسبت به زیر دستان و بیچارگان :

شك نیست که تشکیل جامعه براي رفع نیازمندیهاي افراد است و مهمترین وظیفه اعضا هر جامعه آنست که از درماندگان و تا توانان دستگیري کنند و نیازمندیهـــاي زندگي کساني را که خود توانایي رفــع آنرا نـــدارد بوسیله ئي رفع نمایند .

امروز دیگر این مسأله روشن شده است که بي قیدي متمولین نسبت به گرفتاري افراد تنگدست بزرگترین خطري است که میتواند جامعه یي را نابود کند و توانگران خود نخستین قرباني این خطر میباشند .

اسلام چهارده قرن پیش با توجه با ین خطر دستور داده که توانگران هر سال بخشي از ثروت خود را در میان ناتوانان قسمت کنند، و چنانچه با این اندزه رفع نیازمندیشان نشد مستحب است که براي توسعه، زندگي فقیران بمقداریکه میتواند در راه خدا انفاق نماید .

خداي متعال در سوره آل عمران آیه ۹۲ به این معني میفرماید : به نیکي و رستگاري نخواهید رسید مگر مقداري از آنچه را که مورد علاقه شما است در راه خدا بدهید »

اخباریکه در خصوص خدمت به خلق رسید بیشمار است پیغمبر اکرم محمد «ص» فرموده است : « بهترین مردم کسي است که بیش از همه براي مردم سودمند باشد » و نیز مي فرمود : « در روز رستاخیز کسي در نزد خداي متعال مقـــامش بالا تر است که بیش از همه در راه خیر خواهي بنده گـــان خدا قدم برداشته باشد »

در بلا یار بـــاش یاران را
تا کند فضـــل ایزدت یاري
به همه حـال به روي روزي
تخم نیکي که اینزمان کاري

ادامه دارد

گرایش گروهی و منافع اجیرانه

میر عبدالرقیب «جهید»

زایش تعدد احزاب و گرایش گروهي بخاطر اقتدار و دستیابي به منافع حزبي و گروهي است.

تولد حزب، جبهه، گروه و هر سازمان در تاریخ مقدس جهاد اسلامي ما محض بمنظور جلب منافع و تقویه تبارز سیاسي و گروهي بوده که از دیدگاه اسلام بنیاداً مردود است، تشتت و پراگندگي شیرازه وحدت و یکپارچگي ملت ها و دولت ها را ضربه نابود کننده یي است که دیگر همه دار و مدار و هستي فزیولوژي و معنوي جامعه را یکسره محو مي سازد و در بین ملل و دول قد و قامت طراز خود را و افتخارات تاریخي و مواریث فرهنگي خود را مي بازد .

هرگاه روي اصول همزیستي مسالمت آمیز و موازین انساني و معایر شرعي زندگاني دنیا و آخرت خود را در جامعه بنیانگذاري نماییم و ر عمل انفرادي و اجتماعي بمصالح علیاي اسلام و امت مسلمه بیندیشیم و در نفس الامر حس ایثار و از خود گذري را در میان طوائف و عشایر اسلامي زنده ساخته و تمام منافع ذاتي و شخصي و گروهي را فداي منافع اسلام و قربان دستاورد هاي جهاد چهارده ساله و آرمان شهداي گلگون قباي افغانستان نماییم این رجحان ارزش گرانمایه ایست که بسوي یك جامعه متشرع و متمدن و شگوفان گام برداشته ایم و سعادت دارین در قبال ما خواهد بود .

قرآن حکیم براي پیروان راستین خود بصراحت اعلام میدارد :«که باشید با خود برادر و چنگ بزنید به رسن الهي (دین توحید) بصورت کلي و مجموعي و مؤمنان را محبان و برادران یکدیگر قرار داده که در میان خود دوستي ، صمیمیت ، محبت و عاطفه دارند و در مقابل کفار بمثابه مشت گره خورده اي واحد و سختگیر بمقابله میپردازند و عواقب وخیم نفاق، اختلاف ، تبعیض، از فراق و تحزب را بصراحت لهجه باعث زوال مجد و عظمت مسلمین و انحطاط آنها دانسته که بدبختي و تباهي و خسران دارین را در پي دارد .

هرگاه از دیدگاه پژوهش اعتقادي اسلام پیرامون تبارز احزاب و گروهکها نظر اندازي نماییم . موجودیت و تشکل فرقه بندیها نه بر محور اصول شرعي و فرامین آسماني بوده، بلکه بخاطر حفظ استراتیژي سیاسي و نظامي یك گروه و یا حزب یا در نظرداشت منافع گروهي و منطقوي آن محصور مانده است که تبارز احزاب و گروه گرایي هاي موجوده کوچکترین سودي در پیکر اجتماع نداشته تلاش و فعالیت هاي کارگردانان آنها فقط براي منافع گروهي ، نژادي، محیطي و منطقوي و بهره برداري سیاسي و نظامي، فرهنگي و اقتصادي را احتوا میکند و بس. ما درینجا از ظهور همچو احزاب و گروهك هاي بظاهر اسلامي نام مي بریم که در زیر نقاب، حافظ منافع اجانب و اهداف نامیمون آنانرا دنبال میکنند ..

۱ - حزب وحدت که از اقلیت هاي چند پارچه گروهکهاي ساخت ایران بوده و از حین تأسیس آن تا اکنون موجب ویرانگریها ، کشتار بیرحمانه ، ظلم و وحشت و شکنجه هاي متنوع را خصوصاً در شهر کابل مرتکب گردیده است و فقط منافع اجیرانه و گروهي خود را در نظر دارد نه شخصیت و اصالت دیگر اقوام و قبایل و ملیت هاي مسلمان کشور را.

۲ - جنبش شمال و یا جبهه به اصطلاح ملي و اسلامي که قبلاً تحت زعامت دوستم ملحد به تباني ببرکي ها و پرچمي ها بوجود آمده است که جنایات ننگین را در وقت ائتلاف شان با اداره فـاسد گذشته و سپس در هیکل مثلث شوم با وحدتي ها و مزاري ها و خلیلي ها لکه سیاه تاریخ جهاد مقدس اسلامي شده است .

۳ - حزب منحله، خلق و پرچم که با فروپاشي «کلونیزم» از هم پاشیدند مگر در میان جنبش شمال و حزب شعله یي ها و مائویست ها و وحدتي ها احتضار ننگین دارند .

٤ - ستم ملي و افغان ملت که از جمله احزاب غیر اسلامي و به شیوه غربي و لیبرالي ناسیونالستي نژادي دارند که از نگاه قانون شریعت اسلامي باطل است

در فرجام به این نتیجه دست مي یابیم که سواي اسلام دیگر همه تحزب و گرایش هاي گروهي نقش بر آب است و جد و جهدي بي اثر آنها در طلب مجهول هدر است و حافظ شیرازي «رح» در این باره چه خوب فرموده است :

جنگ هفتادو دو ملت همه را عذر بنه
چون ندیدند حقیقت ره افسانه زدند

################

د شریعت تبصره

احمد شاه مسعود له روسانو سره د منفور ببرك کارمل په څیر معامله کوي

محترمو لوستونکو :

هغه وخت چي د پخواني شوروي اتحاد یا اوسني روسیې او ماسکو له لوري د ۱۳۵۸ د مرغومي د میاشتي په شپږمه د افغانستان پر خپلواکه خاوره ناروا تجاوز او تیري وشو او پر افغانستان « خپل ګاونډي هیواد » یې د نړۍ د ټولني د بین المللي اصولو او ملګرو ملتو د منشور او په سیمه ایزه توګه له افغانستان سره د ګاونډیتوب د اصولو خلاف د نظامي تهاجم په لړ کي د افغانستان د اشغال هڅي وکړي چي الحمد لله د افغانستان د رښتیني ملت او مسلمانانو له لوري د روسیې متجاوزینو دا تیری له لویې ماتي سره مخ شو او د تیري ماتوونکي افغانستان په روښانه تاریخ کي افغانانو مسلمانانو ته د بت شکن ، انګریز شکن او ... شکن القابو تر څنګه د کمونیزم شکن نوی مډال هم ورکړل شو - و الحمد لله علي ذالك - روسانو ،ملحدانو او د ماسکو واکدارانو د افغانستان په دننه کي خپل مستقیم روزل شوي مزدوران چي دوي ورته خلقیان او پرچمیان ویل د کي جي بي آد ماسکو د نظامي جاسوسي دستګاه) په زور د افغانستان پر اداره د یو څه وخت لپاره نصب او نوکران کړل او د افغانستان مجاهد ملت هم روسان او هم د دوي دا ملحد نوکران، سخت وټکول او د افغانستان له اسلامي حریم څخه یې وشړل چي دغه ملحدین یو د بل په لاس ووژل شول او پاتي برخه یې د هندوانو، روسانو او نورو کفري ملتو په لمنه کي د حقارت او ملي او اسلامي خجالت څخه ډك ژوند تیروي .

د روسانو د نظامي استخباراتو اداري (کي جي بي) له بده مرغه د افغانستان د اسلامي جهاد په کرښو کي هم ځیني نا اهله او منافق په اصطلاح مجاهدین وروزل او د غرب د کمونستانو له لوري چي د فرانسي دولتي کمونستان زیات یکي شامل و همدغه روس نوازه او د روس نوکر په اصطلاح مجاهدین مشهور کړل او حتي چاته یې د زمري «حیوان» لقب ورکړ، د افغانستان د جهاد په دوران کي او له جهاد څخه وروسته ځینو بین المللي تحقیقاتي مراکزو دا خبره وڅیرله چي د افغانستان د جهاد په د ننه کي روسي تربیه شوي او روسي تنخواه خواره کمونستان شته او د چین مائیوستان هم فعالیت کوي، چي له هغو څخه یې اوسني قوماندان احمد شاه مسعود چي د افغانستان د اسلامي دولت او د طلباي کرامو د اسلامي تحریك پر ضد جنګیږي هم وښود .

د افغانستان مسلمان او مومن ملت په لمړي سر کي دا فکر نه کاوه چي احمد شاه مسعود دي ددې ټولو القابو سره سره د روسیې او ماسکو نوکر وي خو د وخت تیریدو دا شك په یقین بدل کړ او دا دي نن احمد شاه مسعود د ماسکو په غیږه کي پروت دی او د افغانستان په مسلمان ملت، د کابل په پاکو مسلمانانو په اسلامي دولت ، پر خپلو ورونو او خویندو ګولي اوروي او له تاجکستان نه (له هغه تاجکستان څخه چي ببرك ته په کي روسانو رادیویي بیانه ورکړه او له هغه ځایه څخه یې واورولة) د کابل او پروان پر مؤمنو افغانانو په روسي الوتکو بمبارد کوي .

هغه مشابهت او مقارنت چي د ملحد ببرك کارمل او د اوسني احمد شاه مسعود تر مینځ شته ، هغه په ښکاره توګه د غلامي کړي دي چي د روس له لوري دده غاړې ته د ببرك کارمل په څیر اچول شوي دي .

له بدو بده خبره دا ده چي تیره ورځ د ماسکو رادیو د احمد شاه مسعود له قوله وویل چي « که د طالبانو نفوذ (د اسلامي دولت نفوذ) په افغانستان کي ختم نشي نو روسان مجبور دي چي د دوهم ځل لپاره پر افغانستان حمله او نظامي یرغل وکړي » او دا ځلي به حتماً د ببرك کارمل په ځاي احمد شاه مسعود « د دوهم کارمل» پر دوهم روسي تانك سپور وي او دي به هم په تاجکستان کي هغه وینا په رادیو کي اوروي . چي د کي چي بي جاسوسانو یوه نیمه لسیزه روزلي ببرك کارمل ته لیکلي وه او پدي ډول به د احمد شاه مسعود پاچهي او یو ځل بیا د روس نو کري په افغانستان کي پیل شي او دا هغه خوب دي چي احمد شاه مسعود یې اوس د شپې او ورځيویني .

د احمد شاه مسعود دا خبره د ماسکو راپو ، د روسیې د یوي کثیر الانتشاري ورځپاني په حواله کوله چي دي به هڅه وکړي چي روسان دي ټکي ته تشویق کړي چي د طالبانو د اسلامي تحریك پر ضد پر افغانستان نظامي یرغل وکړي چي پدي حساب اوس اوس احمد شاه مسعود له روسانو سره د ببرك په څیر معامله کوي او دا خبره اوس ثبوت ته اړه نلري چي هغه پخواني خبري چي افغان پوهانو او تحقیق کوونکو د احمد شاه مسعود په باب کولي د شك څخه یقین ته ورسیدي .

د افغانستان د اسلامي دولت مسلمان او په محمدي شریعت سمبال ملت او د طالبانو اسلامي تحریك د روسانو او احمد شاه مسعود دي خبري ته چي روسان به بیا پر افغانستان باندې یرغل وکړي د خوشحال بابا پدي بیت جوابوي چي :

لا تر اوسه بي ماغزه به کرار ندي
چا چي ما سره وهلی سر په سنګ دی

محمد «ص» د پیغمبر په توګه

مفتي عبدالمنان «قاسمي» لومړۍ برخه

درنو لوستونکو ! محمد ﷺ د بشر ناجي د نړۍ نوري دریلې ته درناوړلو استازي د زورګویي او ځنګلي قوانینو ماتوونکي د انساني اخلاقو مربي د روښن فکري او سالم تفکر مؤسس ، د واقعي مساوات او ورورولي رښتینې راهنما ، او هغه په عمل کښي پیاده کول له شر او فساد نه یې په وقایوي توګه مخنیوي کاوه او بالاخره انسان ته یې د کرامت تاج ورکړ .

محمد ﷺ د عادي انسان په توګه له موره پیدا شو د یو یتیم په څیر له دوامداره رنځونو او فقر سره لاس په ګریوان شو هغه دري ځله د یتیمي دردونه او ځپیري پر مخ وخوړي او ولیدي غمونو هغه ونه شو ځپلی او د حوادثو سیلیو لا لوي کړ ! محمد ﷺ په هر ځاي او د هر چا لپاره د رڼا دریله وبوه وګرځید هغه د انسانیت د رنځونو او د بشري دوامداري لویې تبې ته درمل او د نوري تیاري لپاره یې رڼایي راوړه او د ژوند په ټوله دوره کي یې وښودله چه انسان اصلاً یو امین او صادق موجود دي !

محمد ﷺ امین و او خپل عمر یې د سعي او عمل د حق او خیر، صدق او امانت لپاره د شاقه کارونو په درشل کي تیراوه او په دي توګه په دردونو، رنځونو، هاند او زیار سره په ژوند کښي د انسانیت لوړو درجو ته ورسید .

هغه ثابته کړه چي رښتني پوخوالي او لویې د رنځونو په زغملو کار، لاس او عمل ته راځي د ناز او تنعم په ماڼیو کي یې لټول هسي لیوني هڅي دي هغه د حقیقي لویې راز موندلي و، او خداي پاك هم د خپل پیغمبر په توګه مبعوث کړ هغه د انساني کرامت سر تاج او د خداي«ج» د خلافت واقعي مظهر شو .

محمد ﷺ کله چي په پیغمبري مبعوث شو مسؤلیتونه او رنځونه یې نور هم زیات شول ځکه دده مبارزه د شر او ناروا و په مقابل کي وه بشر چي د ناروا و په ډوزوکي راګیر شوي و هغه ته نجات ورکول او رڼا ته یې راوستل هدف و د هغه مبارك په مقابل کي که څه هم د هغه له انساني ښو هیلو او اعمالو سره ناروا او بد چلند کیده د هغه د ګـــورولو او حتي د مرګ لپاره هڅي کیدي مګر محمد ﷺ ونه غوښتل چه د انسانیت د میــدان څخه بهر ګام واخلي او د ټولو ناخوالو سره یې یوه ګړۍ هم نادرتیا ونکړه .

د وینو رنګ

قاري فضل الدین «سراجي»

تا کفري جهان ته اوپه ورکړله
ما مظلوم انسان ته اوپه ورکړله
ستا د تودو وینو رنګ سپرلي راوړ
مایي هم بوستان ته اوپه ورکړله
ته چي قرباني ددین لپاره شوې،
مادي هم ارمان ته اوپه ورکړله
یو ګل خو لښکر یې په ګونډو شولو
اوس یې «پهلوان» ته اوپه ورکړله
ستا د جنګ لمبوکي مخلوق وسوزید
ما هر یو انسان ته اوپه ورکړله
ډوب چي «سراجي» شو خیال د حوروکي
دلته یې قرآن ته اوپه ورکړله

هیله

لیوال

شین کتاب او سپینه توره
لوړه څوکه هسکه پرښه
نازوي یې باد په مینه
* * *
توره شپه کي یوه څانګه
هره پاڼه یې ډیوه ده
هر ثمر یې یو څراغ دي
لاس یې لپه په دعا دي :
«لویه خدایه ! لویه خدایه!
د شملو د سبا برم ته
زما قامت سپرلي سپرلي کړي
څو وياله کي، زما د ګلو
په پهير کتار وليکم
دغه څو رنګين نومونه »:
شین کتاب او سپینه توره
لوړه څوکه هسکه پر بېه
نازوي یې باد په مینه .

وحدت کنیم

ګل آقا «سالك»

در اشك و خون سفینه، غرقاب مان نګر
در آه و شیون یکسره، پیرو جوان نګر
از جور خصم، آتش جنګ است مشتعل
خفته بخون ملت جان بر کفان نګر
غیر از صفیر راکت و فریاد توپ و تانك
کو حاصل دګر؟ به جنګ روان نګر
پشتون ، هزاره ، تاجك و ازبك با همند
طراحي ساز، دشمن مکار عیان نګر
بګرفت سراسر وطنم را ، غبار جنګ
هر جا عزا و ماتمي، بر کشتګان نګر
یك اصل وجوهریم ز یك پیکر و دیار
سازماندهي تفرقه، بیګانګان نګر
هر واکنش ز کرده، اعمال بما رسد
جو نفاق در وطن قهرمان نګر
رحمي ندارد کس بکسي بي تفاوتي ست
بر سنګدلي مردم نا مهربان نګر
راه نجات ما نهفته به دین حق
اینست یګانه راه حل جاودان نګر
وحدت کنیم با همه ، دعوت بخاص و عام
وانګه شکوه و عظمت دیرین مان نګر

د ادب مرغلري

غزل

عبدالرحمن «نیازی»

په جل وهلو کي غرمې تیرې شوې
دلته کي هم سرې ، تودې تیرې شوې
په سپیره چول کي په دي ترخو بونو
پرون څه سوې سرې لمبې تیرې شوې
لا خو ګرځیږوت دي په دي تورو غرونو
د ستر قاتلو قافلې تیرې شوې
څه لیوني منډې هوسیو وکړې
څه به په غشو لګیدې تیرې شوې
ما زوال ولید د یوې ښکلې ښکلا
یو څو سلګې شولې ترخې تیرې شوې
ربه! غمیزه راستنه مه کړې بیا
د ځوانیمرګو جنازې تیرې شوې

زیری درکومه

ملا اسد الله «حنیفي»

نن سبا به پسرلي شي
ټول وطن به ګل ورين وي
د غاټول ګلان په اوري
په لانبوټو په ډاګونو
هر کاله ته به وري زیري
د خوښي سپیني کوتري
نه به شرنه به فسادوي
د تمام هیواد په غیږ کي
افغانان به ټول وي ورونه
دغه زیري درکومه

خطاب به دشمن

طالب العلم حقیقي اسفندوي

ما که کهسار وطن چون لاله رنګین کرده ایم
پیروي از پیشه شیران پیشین کرده ایم
ما ز قرآن خدا درسي حق آموختیم
ما جهاد خویش را بر ضد دهرین کرده ایم
سینه را در سنګر قرآن سپر ما ساختیم
نام افغان بر ستیغ ماه و پروین کرده ایم .
ما که داریم معرکه با دشمن دین خدا
جامه طاهر را با خون رنګین کرده ایم
قهرماني شیوه اجداد ما باشد به حق
(این عمل بر شیوه و بر طرز دیرین کرده ایم)
از جوار دره ها از قله هاي پر شکوه
یورشي بر دشمنان مانند شاهین کرده ایم

د آرزو څاله

امنه سرخرودي

تا چې د مینې په یادونو خاوری وارولی
جوړ دی زما په امیدونو خاوری وارولی
زما دهیلو د آرزو څاله دی ورانه کړله
چې دی په خپلو تللو پلونو خاوری وارولی
رانه د لارې په اوږدو کی دی ازغی وکرل
چې دی د ویاړ په سرو ګلونو خاوری وارولی
هیری به نه کړمه تر مرګه ستا ترخی خاطری
بیا دی زما په پر هرونو خاوری وارولی
زما عظمت دی صدقه کړلو له خپل هوسه
تامی په بلو مشعلونو خاوری وارولی
ستا جفا غندي په قلم «امنه» ګرمه نه ده
تابی د خوب په تعبیرونو خاوری وارولی

فرهنګ دلهاي فرشته خصال

محمد هاشم «هاشمي»

۱ – چراغ وجدان تانرا با شعاع راستي و صداقت روشن نګه دارید – تا خانه دلهاي شما تاریك و ملول نګردد .

۲ – ګردش وقت و زمان که با جوهر نیروي عمر شما مي چرخد ، در لحظه لحظه، آن غفلت نکرده از آن در جهت سود هاي مادي و معنوي خویش استفاده کنید .

۳ – از عبوسیت و خشونت بپرهیزید تا درخت مقدس آرامش و تواضع مهر و محبت افشان از زمین دلهایتان سر بر افراشته و شما را محبوب القلوب ګرداند .

٤ – انسانهاي شریف و بزرګ در جهت بیداري و شکستن ستون فقرات فقر و محرومیتهاي همنوعان شان فعالیت میکردند و مي کنند – چرا که این دو چهره کره و بد منظر غفلت و فقر و محرومیتها ، نکبت بارترین چهره هاي جامعه ، بشري بوده و مادر تمام خیانت ها و خیانت کاري ها میباشد .

٥ – در باغستان وجود انسانها بهترین درختیکه میوه هایش بسي دلربا و لذت بخش است، درخت مقدس عقل است که میوه هاي آن اخلاق کریمه میباشد هرکه از شما اخلاقش نیکو تر است بطور یقین عقلش نیز بیشتر خواهد بود

٦ – توجه توجه : دین خدا به انسانها نور بصیرت میدهد ، نور بصیرت چراغ امید را در دلها روشن میکند ، چراغ امید قلبها را مطمئن میګرداند .

اطمینان قلبها عالم نهاد را از دست دیو کثرت، وسوسه آفرین و تشتتګر نجات داده به آغوش فرشته وحدت و آرامش بخش یعني عقل آسماني و روح خدایي مي رساند .

